نو ما شاهد مه ګرځوه، ځکه زه پر ظلم نه شاهد (ګواه) کېږم

له نعمان بن بشير رضي الله عنهما څخه روايت دی چې: زما مور؛ د رواحه لور، زما له پلار څخه غوښتنه وکړه چې زما لپاره د خپل مال يوه برخه ماته ډالۍ کړي، نو پلار مې يو کال دا کار وځنډاوه، بيا يې ومنله، نو مور مې وويل: زه راضي نه يم تر څو رسول الله صلى الله عليه وسلم په هغه څه شاهد ونه ګرځوې چې زما زوی ته يې ډالۍ کوې، نو پلار مې زما لاس ونيوه، زه هغه وخت ماشوم وم، او رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې بوتلم، ويې ويل: اې د الله رسوله! د دې ماشوم مور غواړي ته پر هغه څه شاهد شې چې زه يې د هغې زوی ته ډالۍ کوم، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: اې بشيره! آيا لدې پرته نور اولادونه لرې؟ ويې ويل: هو، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: آيا ټولو ته دې همدومره (مال) ډالۍ کړی دی؟ ويې ويل: نه، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «نو ما شاهد مه ګرځوه، ځکه زه پر ظلم نه شاهد (ګواه) کېږم»، او د مسلم په روايت کې راغلي: «نو پر دې بل څوک شاهد وګرځوه».

[صحيح دی] [متفق عليه دی او ګڼ (بيلابيل) الفاظ لري]

نعمان بن بشير رضي الله عنهما خبر ورکوي چې: زما مور، عمرة بنت رواحة رضي الله عنها، د هغه له پلار څخه غوښتنه وکړه چې زما زوی ته له خپل مال څخه يوه برخه (تحفه يا بخشش) ورکړي، نو پلار ته مې درنده تمامه شوه او دا کار يې يو کال وځنډاوه، بيا يې پريکړه وکړه چې غوښتنه يې ومني، او نعمان زوی ته يې بخشش ورکړي، نو هغې وويل: تر هغه پورې نه راضي کېږم چې رسول الله صلى الله عليه وسلم پر هغه څه شاهد ونه ګرځوې چې زما زوی ته دې ورکړي دي، نو پلار مې زما لاس ونيوه، پداسې حال کې چې زه هغه مهال کوچنی هلک وم، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغلی او ويې ويل: اې د الله رسوله! د دې ماشوم مور؛ د رواحه لور، خوښ ګڼي چې ته پر هغه څه شاهد شې چې ما د دې زوی ته ډالۍ کړي دي، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: اې بشيره! آيا لدې پرته نور اولادونه هم لرې؟ هغه وويل: هو. رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «آيا ټولو ته دې همدومره څه ورکړي دي؟ هغه وويل: نه. نو هغه وفرمايل: «پس ما شاهد مه ګرځوه، ځکه زه پر ظلم او نابرابرۍ نه شاهد کېږم». او د مسلم په روايت کې راځي چې د رټلو په موخه يې هغه ته وويل: پر دې ظلم زما پرته بل څوک شاهد وګرځوه.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6035